# افغانستان : له انتقالي دورې راوتنه

د وري ۱۳ـ ۱۴ مه ۱۳۹۴،

د عاليرتبه پلاوي غونډه

WORLD BANK GROUP

# موخې

- د عالي رتبه پلاوي په غونډه کې د سترو مالي مسایلو په هکله د اګاهانه بحث له پاره د بنسټونو وړاندې کول .
- د لیږد یا انتقال دورې ننګونو ته د ځواب ویلو او هیلو ته کتنه .
- د انتقال د بهیر د اقتصادي اغېز په هکله بحث .
- له انتقال څخه وروسته د بنه والي له پاره د نظر وړاندې کول .
- د نړدې راتلونکي له پاره د اړوندو کړنو انځور .

# د لېږد یا انتقال له دورې مخکې: ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۹۱پورې له ډېر تېیت ځایه د پاملرنې وړ اقتصادي او ټولنیز پرمختګ

## اقتصادي پرمختګ :

- د ۲۰۰۳ ـ ۲۰۱۳ کلونو په اوږدو کې د کورني ناخالص تولید وده ۹،۴ سلنه .
- د سرانه عاید زیاتوالی په ۲۰۰۲ م کال کې له ۱۸۶ ډالرو څخه په ۲۰۱۲ م کال کې ۶۸۹ ډالره .
- په ۲۰۰۲ م کال کې د کورني ناخالص تولید کورني عواید په سلو کې ۱۲،۶ څخه په ۲۰۱۱ م کال کې کورني ناخالص تولید په سلو کې ۱۱،۶ ته زیاتوالی موندلی دی .
- د عامه مالي مدیریت ښه والی په ۲۰۰۲ م کال د بودجې د لګښتونو د زیاتوالي امکان له ۳۰۳ میلیونه ډالرو څخه په ۲۰۱۲ م کال کې۴،۹ میلیارده ډالر برابر کړي دي .




سرچینه : د احصایی مرکزي اداره او د نړیوال بانک کارکوونکي

## ټولنیز پرمختګ :

- په ښوونځیو کې نوم لیکنه په ۲۰۰۱ م کال کې له یو ملیون تنو
- ( د نجونو لږ شمېر) څخه په ۲۰۱۳ م کال کې ۹،۲ تنو ( ۳،۶ میلیونه نجونې ) ته زیاتوالی موندلی دی .
- د مناسبو اوبو سرچینې ته لاس رسی په سلو کې ۲۲ څخه په سلو کې ۵۰ ته زیات شوی دی .
- ژوند ته هیله او امید په دې موده کې د پام وړ زیاتوالی لرلی دی .
- د ۲۰۰۱ څخه ۲۰۱۳ م کال پورې د میندو مړینه له نیمایی راکمه شوې ده .

# د لېږد یا انتقال د دورې ننګوونې ۲۰۱۲ـ۲۰۰۴

### د انتقال بهرني عوامل (فکتورونه )

- د نړیوالو ځواکونو وتل .
- د مرستو کمښت .
- د نظامي اډو ترل کېدل او پر سیمه ییز اقتصاد یې اغېزې .

### د انتقال کورني عوامل ( فکتورونه )

- د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو په اوږدو کې د اصلاحاتو ورو پرمختګ .
- د ټاکنو اوږد بهیر او د دولت تشکیل .




سرچینه : نړیوال بانک




سرچینه: UNAMA

# د توکیو او شیکاګو ځواب

## د ودې د بهیر راتیتېدل :

داسي هیله کېده چي د اقتصادي ودې چټکتیا د انتقال په بهیر کي راتیته شي ، خو دا توقع وه امنیت او سیاسي ثبات به په ۲۰۱۵ م کال کې د اقتصاد د بنه والي سبب وګرځي ، هر څو که د اقتصادي ودې بهیر په اوږد مهال کي ډېر ټیټ و ( یعني په ۲۰۱۲ـ ۲۰۱۸ کلونو کي په منځنۍ توګه ۵ سلنه ) . له دې څخه لوړه اقتصادي وده د اقتصاد په کلیدی برخو لکه کانونه او کرنه کي په اصلاحاتو او پانګه اچونه کي په پیاوړي پرمختګ پورې اړوند او مشروط و .

## د مالي خلا مدیریت :

امنیتي لګښتونه او د افغانستان کلکي پراختیایی اړتیاوي د وړیا مرستو له دوام ، د عوایدو د راټولو په ښه الي او د مرستو اغیزناک کېدو پورې اړه لري .

## د اغېز کمښت ( توکیو او شیکاګو ۲۰۱۲ )

مرسته کوونکو د باثباته او بیش بیني وړ نظامي او غیر نظامي مرستو د ورکړې له پاره ، د بودجي له لاري ډېره مرسته او د لومړیتوب لرونکو ملي پروګرامونو د غوره همغږۍ له پاره خپلې ژمني اعلان کړي ، په داسي حال کي دولت هم د هیواد د عوایدو د لوړولو او دولتي بنسټونو د پیاوړي کولو له پاره د انتقال د اغېزو د کمښت په منظور خپل ځان ژمن کړ .

د مالي خلا اټکل : ۲۰۱۳-۲۰۲۵
(د کورني ناخالص تولید سلنه )




سرجینه : نړیوال بانک ، ۲۰۱۲ ( له توکیو او شیکاګو څخه مخکې )
پاملرنه : مالي خلا هم په بودجي پورې اړوند او هم د دولت له بودجي څخه بهر تر ۲۰۲۵ م کال پورې د پیش بیني شوې بانکې د تګلوري د خوندي ساتنې له پاره اشاره لري .

# هماغسې چې وړاندوینه شوې وه د انتقال په دوره کې وده ورو او سسته شوه ....

- د کورنې ناخالص تولید حقیقي ودې په ۲۰۱۳ م کال په سلو کې ۳،۷ کمښت و موند او په ۲۰۱۴ م کال کې ۱،۳ سلنې ته ورسید .
  - د مرستو د اندازې کمښت د خدمتونو له پاره غوښتنه را کمه کړې ده .
  - د سیاسي ثبات نشتوالي او د اصلاحاتو ورو پرمختګ په ډېره کلکه د کارکسب او پانګه اچونې پر ډاډمنتیا اغېزه کړې ده .
- ناقانونه فعالیتونو زیاتوالی موندلی دی. له ۲۰۱۲ م کال څخه د تریاکو تولید ۷۲ سلنه وده لرلې ( په ۲۰۱۴ م کال کې ۶۴۰۰ ټنو ته رسیدلی دی) په داسې حال کې چې د خشخاشو تر کرنې لاندې ځمکې ۴۵ سلنه زیاتوالی موندلی دی .

**په ټولو خصوصی سکتورنو کې د تولید د کمښت له امله اقتصادی و ده کمه شوې ده**




سرجینه : د احصایی مرکزی اداره او د نړیوال بانک کارکوونکی
د تریاکو د تولید شمیرې• ارقام ) په کې نه شاملیږي .

**د شرکتونو ډېر لږ ثبت څرګنوي چې په خصوصی سکتور کې لږه پانګونه شوې ده**




سرچینه : د افغانستان د پانګې اچونې د ملاتړ اداره

# خو مالي زيانمنی ډېرې د پام وړ دي ...

- کورني عواید په کلکه راکم شوي دي او په ۲۰۱۱ م کال کې له ۱۱،۶ سلنې لوړې کچې څخه په ۲۰۱۴ کال کې کورني ناخالص تولید ۸،۷ سلنې ته رسیدلي و ، چې دا د اقتصادي ودې د کمښت او د حکومتولی د ډېرې زيانمن کېدنې له امله و.
- امنيتي لګښتونه او د لوړو تولنيزو حقوقو لګښت .
- د ۲۰۱۴ م کال مالي کرکیچ : مالي کسر ، ان داچې د فوق العاده بودجوي مرستو په پام کې نيولو او د لګښتونو په کمښت او محدودولو سره ۳۵۱ مليونه ډالرو ته ورسيد.

کورني عواید له لومړنيو موخو او هدفونو څخه لږ شول




لوړ امنيتي لګښتونه او لږ عواید په ۲۰۱۴ م کال د مالي کسر لامل شو




سرچينه : د بانک د کارکونکو براورد

# د انتقال دورې لوی اقتصاد کمزوری نه کړ

- سره له دې چې د بهرنيو مرستو اندازې د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۴ کلونو تر منځ کمښت موندلی دی ، خو دا د جاری حساب ازاد ساتلو او د کورني ناخالص توليد شاوخوا ۴۰ سلنې ستر سوداګريز کسر جبران له پاره کافی دی .
- د افغانی ارزښت د ۲۰۱۲ جنوری او د ۲۰۱۵ جون ترمنځ نږدې ۲۰ سلنه د امريکايی دالر په وړاندې راټيټ شو ، چې دا په عمده ډول د مرستو د لږوالي او د خالصې پانګې د بهيرونو د کمښت له امله و . د کالو او جنسونو د نړيوالو بيو کمښت او د کورنی تقاضا کموالي پرتورم باندې د مبادلې د نرخ کمښت مهار کړ .

- د ارزي زېرمو اندازه مناسبه ده او د ۲۰۱۲ م کال په لومړيو کې له ۶ ميلیارده ډالرو څخه د ۲۰۱۵ م کال په نيمايی کې يې ۷ ميلياردو ډالرو ته وده او زياتوالی موندلی دی .
- د پانګې د ورودی بهيرونو له پاره د نويو سرچينو د نشتوالي په صورت کې ( صادراتي عايدات، حوالې ، مستقيمه بهرنۍ پانګه اچونه) او په وارداتو پورې د ترلتيا دوام ، کېدای شي په راتلونکي کې د ورکړې بيلانس له خطر سره مخامخ کړي .

د بهرنيو مرستو ورودی بهيرونو په ۲۰۱۴ م کال کې ستر سوداګريز کسر د تمويل له پاره ورکړې دی




سرچينه : د پيسو د نړيوال صندوق او نړيوال بانک د کارکوونکو اټکل

# په داسې حال کې چې ننګوني پاتې دي، په واقعیت کې د مرستې وړاندې کولو بڼه والې موندلې دی .

- داسې ښکارې چې د مرستو ورکړه د توکیو له ژمنو (TMAF) سره سمه ده .
- موخې او هدف ته رسیدنه ، د بودجې له لارې د ۵۰ سلنې مرستې په ترسره کېدو تحقق موندلې دی ..
- مالي مرستې ډېرې اختیاري شوې دي . اختیاری مالي مرستې په ۲۰۱۲ م کال کې د بودجې سره ټوله ۶۲ سلنه مرسته په ۲۰۱۴ م کال کې ۶۶ سلنې ته زیاته شوې ده .
- د دولت له لومړیتوبونو سره د مرستو همغږي ، همداسې ستونزمنه ده .

د TMAFله ژمنو څخه له نیمایی زیاتې ترسره شوې او ورکړل شوې دي




سرچینه د مالیي وزارت

په مجموع کې اوس له ۵۰ سلنې څخه زیاتې مرستې له بودجې سره کیږي




سرچینه : د مالیي وزارت

# د انتقال له دورې وروسته ۲۰۱۵ـ ۲۰۱۸ د انتقال له بهیر څخه راوتل ډېر سست او پخ وو

- په ۲۰۱۵ م کال کې اقتصاد هغسې چې هیله یې کېده ، ښه والی و نه موند. د نا امنۍ زیاتوالی ، د سیاسي بې ثباتۍ دوام او اصلاحاتو د پانګې اچونې مخه نیولې ده .
- داسې هیله کېږی چې په منځ مهال کې وده ورو او سسته پاتې شي . په ۲۰۱۵ م کال کې کورنی ناخالص حقیقي تولید د ۱،۹ سلنې په اندازه پیش بیني شوی دی .
- ورو او پخ اقتصادي ښه والی په اوږد مهال کې پایلې او نتیجې لري : د نفوسو اوسنۍ ودې ته په کتنه او پاملرنه په اوس وخت کې د عایداتو د درز کمول او له منځه وړل ډېرې لوړې ودې ته اړتیا لري .




سرچینه : د نړیوال بانک د کارکوونکو برآوردونه




سرچینه : د نړیوال بانک د کارکوونکو برآوردونه

# مالي بهير د لوړو لګښتونو د فشارونو له امله اوس هم ننګونکی دی ...

امنيتي لګښتونه د شيکاګو له لومړنيو وړاندوينو څخه لوړ شوي دي د نظامي لګښتونو د تمويل له پاره د دولت ونډه په ۲۱۱۳ م کال کې له ۵۸۳ مليونه دالرو څخه په ۲۰۱۴ م کال کې ۷۵۴ مليونه ډالرو ته زياته شوې ده ، چې د شيکاګو له ژمنې ( ۵۰۰ مليونه ډالرو ) څخه زياته ده .

- د امنيتي برخې اوسنۍ ستراتيژي د بودجې له لارې په مالي تامين سره د امنيتي عملياتو د زياتوالي څرګندويی کوي .
- په منځمهال کې د تقاعد د لګښتونو د زياتوالی فشارونه او د شهيدانو او معلولينو د کورنيو د حقوقو وده زياتوالی مومي .
- معاش او اجوره به د دولت د بودجې د پاملرنې وړ برخه ځانته اختصاص کړي . اوس د ملکي خدمتونو پروګرام جوړونه پر پايښت لرونکو مالي کتنو او ملاحظاتو باندې ولاړه نه ده .

د عادي لګښتونو فشارونه د زياتېدو په حال کې دي




سرچينه : د نړيوال بانک د کارکوونکو وړاندويني

# او د عوایدو راټولنه ټیټه ده او د دولت بالقوه عواید محدود دي .




سرچینه : د نړیوال بانک د کارکوونکو پرآورد

- داسې هیله او توقع کیږی چې د کورنیو عوایدو اندازه د کورنی ناخالص تولید په تناسب په ۲۰۱۵ م کال کې زیاتوالی و مومي، خو همداسې به د ۲۰۱۱ م کال له سطحې او کچې څخه ټیټ پاتې شي .

  نوی تجزیه او تحلیل څرګندوي چې مالیاتي اصلاحات او سمونونه او د هغو د تر سره کېدو او تطبیق له پاره هڅه او هلې ځلې کولی شي د کورنیو عوایدو اندازه د کورني ناخالص تولید د ۴ـ۵ سلنې سره برابر ( د عوایدو درز ) زیات کړي .

  ټول بالقوه اقتصادي عواید ـ چې د هیواد اوسنی اقتصادي جوړښت او ځانګړنو ته په پاملرنه کیدای شي د مالیاتي سیاستونو او غوره مدیریت له لارې تر لاسه شي ـ شاوخوا ۱۶ سلنه کورني ناخالص تولید برآورد شوی . دغه اندازه د افغانستان د اوږدې مودې د مالي تامین د اړتیاوو په پرتلنه ناکافي ده .

- د بالقوه عوایدو ډېر زیاتوالی د ودې له نویو سرچینو او پانګه اچونې څخه ګټې اخیستنې ته اړتیا لري .

# د منځمهاله مالي تامین اړتیاوو زیاتوالی موندلی دی

- د ۲۰۱۵ م کال بودجه ډېره واقعیبنانه او پر واقعیت ولاړه ده ، د زیاتو لګښتونو څخه د مخنیوي له پاره هڅې د سپما له پاره کړني په عمل کې پلي کول او د عوایدو زیاتوالی څرګندوي .
- لړو عایدو ته کتني او پاملرنې د لوړو لګښتونو له فشارونو سره یو ځای په منځمهال کې پیش بیني شوي مالي کسر زیات او ژور کړ . د مالي مرستو ( اختیاری ) له پاره لوړې ژمنې یا زیات مالي تعدیلونه ، بودجې د متعادل کولو په منظور لازمي دي .
- که چېرې امنیتي حالت بنه والی و نه مومي ، د لګښتونو مدغم کول او له منځه وړل به ډېر ستونزمن وي او د فقر او غربت د کمښت له پاره ډېره محدوده فضا به له دې نوره هم تنګه کړي .

### کورني عواید یواځې شاوخوا یو پر دریمه برخه د تولو لګښتونه پوره کوي




سرچینه : د نړیوال بانک د کارکوونکو وړاندوینې

### مالي خطرونو او تعدیلي اړتیاوو زیاتوالی موندلی دی




سرچینه : د نړیوال بانک کارکوونکو وړاندوینې

# د سترو مالي اصلاحاتو او سمونونو په برخه کې نوی حرکت

**یو شمېر د پاملرنې وړ د سترو او پراخو اصلاحاتو طرحې د نړیوالو شریکانو له ژمنو سره یو ځای رامنځته او پلان شوې دي :**

## د متقابل حساب ورکولو د چوکاټ له لارې په ځان بسیانه (SMAF ۲۰۱۵)

- د تدارکاتو ملکي سیستمونه او مالي روڼتیا (شفافیت ) او په امنیتي وزارتونو کې ځواب ویل .
- تاکنیز اصلاحات او سمونونه .
- د فساد ضد کړنې او د ملکي خدمتونو اصلاحات .
- د ولایتي بودجه بندی سیاست .
- مالیاتي مدیریت .
- په ګمرک کې الکترونیکي ورکړې .
- د عامه مالیې مدیریت د اصلاحاتو دویمه دوره .
- د خو کلنې بودجې چوکاټ .
- د پانګې اچونې د فضا اصلاحات او د دولتي – خصوصي مشارکت او ګډون له پاره د څارنې چوکاټ.

## د پیسو د نړیوال صندوق پروګرام (۲۰۱۵ )

- د ۲۰۱۵ م کال له پاره نوې مالیاتي کړنې .
- څارنه او بانکي مقررات
- د نوي بانکدارۍ قانون .
- د پیسو مینځلو او ترهګرۍ له تمویل سره د مبارزې د قانوني چوکاټ پیاوړتیا
- د مالي بازار پراختیا : د صکوک قانون او د موجودو مالي وسایلو ثانویه مبادله .
- د نوي کابل بانک خصوصي کول .
- مالیاتي مدیریت
- د طبیعي سرچینو له پاره مالي نظام .
- د عامه مالي مدیریت اصلاحات .
- له فساد سره د مبارزې هڅې او کوښښونه .

## د افغانستان د بیارغونې د صندوق هڅونکی پروګرام (۲۰۱۵ - ۲۰۱۷ )

- د بشری منابعو مدیریت ، د ګمرکونو او مالیاتو په اداره کې د قوانینو او سوداګریزو بهیرونو تطبیق .
- د مالیاتي سیاستونو او مالیاتي قوانینو همغږي .
- د تقاعد او تولنیزو حقوقو د سیستم طراحي او وړاندې کول .
- د ځمکې او اراضي مدیریت .
- د کار کسب ثبت او جواز ورکول .
- مالي انخلال او ولایتي بودجه جوړول .
- تفتیش ،مدني تولنې ته د ځواب ویلو وسایل ، د تفتیش د تعقیب میکانیزمونه .

پاملرنه : له دولت سره د ځانګړو هیوادونو دوه اړخیزه پروګرامونه دلته نه دي یاد شوي .

# د نا امنۍ او بې باورۍ ( ستونزمن حالت ) کمښت یو اوږد مهاله هڅه ده

| | دولت، سیاسي بنسټونه او کمزورې حکومتولي | جګړه او نا امني | ټولنیزه او توکمیزه (دیموګرافي ) |
|---|---|---|---|
| د ناوړه حالت تحریکونکی | • نوي رامنځته شوي سیاسي بنسټونه<br>• د نخبه ګانو ترمنځ معاملې<br>• د لږو سرچینو ( ځمکې ) په سر سیالي او رقابت<br>• فساد او د سیاسي ملاتړ لاري<br>• سیمه ییزه کمزورې حاکمیت او د ثانویه ملکي خدمتونو را منځته کېدل . | • اړ دوړ او دار اچونه ( ترهګري )<br>• سیمه ییزې شخړې ( جګړې )<br>• د بهرنیو هیوادونو له خوا ژیو پولیتیکه لاسوهنه ( مداخله ) او نیابتي جګړې .<br>• په وچه کې محصور کېدل ، غرنی هیواد ، له غیرقانونی سیمه ییزو فعالیتونو سره .<br>• په افغان ملي امنیتي ځواکونو تلفات او لګښتونه . | • قومي تفرقه د جګړې له امله زیاته شوې ده .<br>• جنسي مسایل ، د پناه اخیستونکو بېرته راستنېدنه کېدای شي کړکېچ او تاؤتریخوالی زیات کړي .<br>• ډېر نفوس او کار د ځواک وده .<br>• چټکه ښار مېشتېدنه . |
| د ثبات احتمالي عوامل | • د دولت د ظرفیت پیاوړتیا او سیاسي بنسټونه .<br>• عیني قانوني اصلاحات او سمونونه<br>• د پیاوړي سیاسي ځواب ویلو لارې چارې .<br>• د واقعیبینانه یا پر واقعیت ولاړ پیاوړی اقتصادي ودې موډل .<br>• له فساد سره مبارزه . | • ثبات او سیمه ییزه هم پالنه .<br>• د سولې توافق او ځمکنی تمامیت .<br>• د امنیتي برخې واقعیبینانه او سیما ته نږدې ستراتیژي .<br>• د سیمه ییزې سیاسي جغرافیا پرمختګ به ډېرې ښېګنې له ځان سره ولري . | • ټولنیزه پانګه ( سیمه ییز پیوستون ) له جنګ جګړې څخه سترړیا .<br>• . کار کسب رامنځته کول، متحرک جمعیت او نفوس .<br>• د نسل بدلون او تغیر .<br>• ټولنیز نظم او انسجام .<br>• نړیوال پیوند او تحرک .<br>• په ټولنیزو شاخصونو کې پرمختګ<br>• د جنسیتي درز کمښت . |

# ... همدارنګه د هر اړخیزې ودې د پیاوړتیا سبب هم کیږي

- د زېربناوو ښه والی ، انساني پانګه ، ځمکې او مالي سرچینو ته لاس رسی او د پانګه اچونې فضا د کار کسب د رامنځته کولو او په ټولو برخو کې د ودې سبب ګرځي .
- بزګري او کروندګري : پر هغو کرنیزو محصولاتو تمرکز چې په لومړیتوب کې دي او د ودې او د کار و کسپ د رامنځته کولو له پاره ظرفیت لري .له هغې جملې څخه آبی غنم ، باغي محصولات ، مالداري او د کرنیزو توکو د پروسس صنایع ..
- د کانونو د سکتور د ځواک او توان بیاوړي کول قانوني چوکاټ ته اړتیا لري او همدارنګه د زېربناوو له پاره د مالي وجهو تامینول او پوره کول لازمي دي .
- سیمه ییزه همپالنه او کډوالي (مهاجرت ) کولی شي مهمه ونډه تر سره کړي ، خو دا دواړه په بهرنیو عواملو پوري تړاؤ لري او ډېر لږ د ورادوینې وړدی .



# د کار کسب او غربت د فشارونو کمول

افغانستان اوس هم د نړۍ یو ډېر غریب هیواد دی ، چې د هغه ۳۵،۸ سلنه نفوس په ۱۳۹۰ لمریز کال کې د فقر او غربت لاندې کربنه کې ژوند کاوه ، او له نیمایی ځخه زیات وګړي (نفوس) یې زیان منونکي دی .

- ۱۳۹۲ لمریز کال د کور په کور سروې ( ALCS) لومړنۍ نتیجې څرګندوي د فقر او غربت اندازه د امنیتي حالت د ناوړتیا د کار د بازار فرصتونو له امله لوړ شوې ده .
- د نفوسو بهیر څرګندوی چې هر کال ۴۰۰،۰۰۰ تنه ځوانان د کار ځواک ته داخلیږي .
- د منځمهاله دورې حالت مطلوب نه دی : د اقتصادي ودې پځوالی او سستوالی او د خدمتونو وړاندې کولو په مخکې ننګوني په زیات احتمال سره د انساني پانګې زېرمه لکه ( ښوونه او روزنه ) اقتصادي وده او د فقر یا غربت له منځه وړنه کمزورې او راکموي .
- کورنیو ته په مستقیم ډول د پیسو د انتقالولو پراختیا اود بیمو طرحې کولی شي د غریبو او بې وزلو زیان مننه راکمه کړي او د کورنیو په سطحه د موازی پانګې اچونې د زیاتوالی سبب وګرځي .
- د لویانو د لیک لوست او مهارتونو د زده کړې له پاره پانګه اچونه کیدای شي چې د کار دموجود ځواک د تحرک او ګټورتیا سبب وګرځي ، د ودې او پراختیا په بهیر کې د غریبانو د ګډون زیاتوالی ښه والی ، او د مدنی ټولنې په پروګرامونو کې د هغوی ګډون او سمبالولو لامل وګرځي .

# د عالیرتبه پلاوي له غونډې د ۲۰۱۶ م کال د وزیرانو تر ناستې : سملاسي ننګوني

**د نظامي او پرمختایی مرستو پورې اړوند اړتیاوو بیانول**

- د افغانستان د امنیت ستراتیژي او ژمنی باید په امنیتي حالت کې د بدلونونو او دمالي پرمختګونو او د واقعي مفروضاتو په رڼا کې تر کتنې او څېړنې لاندې ونیول شي .
- د انکشافي بودجې په مالي تامین پورې اړونده ژمنې باید په زیات احتمال سره لږ تر لږه په اوسنۍ کچه او سطحه پاتې شي .د مرستو په وړاندې کولو او پروګرام جوړولو کې دزیاتو بدلونونو له لارې په کومو شیانو برلاسی پیداکولی شو ؟
- لازمه ده چې د ملی پراختیا نوې ستراتیژی د مالی مرستندویانو له پاره د څرګند درېځ غوره کولو لار برابره کړي .
- **د خصوصی سکټور د باور راړول او د پانګه اچونې تحریک <u>همدا اوس</u>**

نه یوازې مرستې، بلکې د پانګې اچونې فرصتونه به هم د افغانستان د ودې لیدلوری وټاکي

- اوسني تر لاس لاندې اصلاحات په زیات احتمال سره په اوږد مهال کې خپلې مثبتې اغېزې څرګندوي . خو اصلاحات د خپل ماهیت له مخې کولی شي په لنډ مهال کې اختلال او ګډوډي رامنځته کړي . افغانستان له دې نه زیات نه شي کولی پانګه اچونې د ناغوښتلو اغېزو یا ناهماهنګه سیاستونو له لارې له لاسه ورکړي . خبرې اترې ، مشوره کول او نږدې اړیکې به له خصوصي سکټور او متشبثینو سره د اصلاحاتو په ټولو کلیدی برخو کې اغېزناکې وي .
- په اوسنیو شرایطو کې د سیاستونو د پیش بینۍ وړ نشتوالی ، د ستراتیژیکي اوږدمهالي پانګې اچونې تصمیمونه شاته غورځوي . د اقتصادي پراختیا په برخه کې د دولت د سیاست او نظر تدوین کولی شي د وړاندوینې وړتیا ښه کړي او د کورنیو او بهرنیو پانګه اچوونکو له پاره غوره لاربښوونې برابرې کړي .

# د عاليرتبه پلاوي له غونډې د وزيرانو د ۲۰۱۶ م کال تر ناستې : سملاسي ننګوني

**د تولنيز خونديتوب د پروګرامونو د پراختيا له پاره د مالي فضا پرانيستنه**

- له زيات مالي تامين پرته د غربت او فقر د کمولو له پاره يوازينۍ لاره داده چې اوسنی پراختيايی مداخلې له نوی سره پروګرام کړو .
- د ټولنيز خونديتوب په پروګرامونو پورې اړوندو فرصتونو کشف او موندنه ، له هغې جملې څخه کورنيو ته د پيسو د مستقيمې انتقالوني د لويانو د ليک لوست زده کړې طرحې د خدمتونو د وړاندې کولو د پياوړتيا او ټولنيز نظم او انسجام په منظور په غريبو کورنيو مستقيمه اغيزه لرې .

**له اصلاحاتو څخه د متوقع نتيجو ترلاسه کول :**

- وروستي پروګرامونه او له اصلاحاتو څخه هيله کېدونکې هدفونه د ډاډ وړ دي، خو اوس دا لازم دی چې هغه په ټول قوت او ځواک تر سره شي .
- د اصلي پانګې او لګښتونو په برخه کې د محتاطو کنټرولونو رعايت . لازمه ده چې ځينې هڅې ، له هغې جملې څخه د سون د توکو مرکزي رانيونه دی د لوړو کنټرلونو سره په امنيتي لګښتونو کې د سپما په منظور زياتوالی ومومی .
- د تثبيت شويو ګټو کتنه په لوړه کچه د سياسي ملاتړ غوښتنه کوي او همدارنګه د عمل پالني حس دی او په خپل بهير يا تګلوری کې باورجوړوني ته اړتيا لري .